AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولی ناروغ

۲۰۲۱/۰۲/۱۴

# بینا، نابینا

خوش رنگی د نابینا له سترگو گوره
چی میین په خوی او بوی شی د بینا

کوم بینا په نابینا باندی عاشق دی؟
چی بینا وی له فطرته نابینا

اعتبار په آیینه باندی مجهول دی
لیدای نه شی د ضمیر د مخ ښکلا

چی ثنا د معشوقو د خط او خال کړی
لکه بت ته چی سجده کاندی ریا

گلابی رخسار بهار ژغورلای نشی
د خزان په اور به و سیځی له تا

د ازل په کرښو پل کیږده دلبره
غاړه راکړه ښکلا نه لری بقا

د اشرف المخلوقاتو له کرداره
شکاری نوم چی وی غلا شوی له بل چا

ولی ناروغ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ